بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وعن جابر قال قال رسول الله ﷺ اما بعد فان خير الحديث كتاب الله وخير الهدى هدى محمد وشر الامور محدثاتها وكل بدعة ضلالة

ترجمه: د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم پس له دې څخه په تحقیق سره غوره د خبرو کتاب الله او غوره د لارو لاره د محمد صلی الله علیه وآله وسلم او ناکاره د کارو نوې څخه نوي پیدا شوي دي او هر یو بدعت ګمراهي ده « مسلم »

PROPERTY OF ACKU

الدعوة

ولتكن منكم امة يدعون الى الخير ويأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر

دافغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة نشراتي ارګان

PROPERTY OF ACKU

زموږ هدف

زموږ د هر ډول الحاد، شرک، بدعت، فساد ظلم او ناروا و څخه پاک اسلامي ټولنه غواړو او د الله جل جلاله په ځمکه د الله جل جلاله د قانون حکومت غواړو او د دې مقصد تر حصول پورې به جهاد ته دوام ورکوو.

لومړی مخ ـ څلورم کال ـ (۵۱) ګڼه ـ د ۱۳۶۸ هـ ش کال د دلوې د میاشتې (۵) = د ۱۴۱۰ هـ ق کال د جمادی الاخر (۲۷) = د ۱۹۹۰ م کال د جنوری د میاشتې (۲۵)

د تنظیم طلبه سلفیه پیغام

ومن احسن قولا من دعا الى الله وعمل صالحا الخ

الله تعالی جل جلاله فرمايي: او د هغه چا څخه بنایسته څوک دی په وینا کښې چه د الله تعالی طرف ته دعوت ورکوي او خپله نیک عمل کوي او وایي چه زه مسلمانانو له جملې څخه یم او د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي چه: بلغوا عني ولو كان ایة یعنې ورسوئ زما څخه اګر که ستاسې علم په یوه ایت وي نو خوښ مسلمانه الله تعالی موږ د یو مقصد دپاره پیدا کړي یو چه هغه مقصد د الله تعالی عبادت دی. نو الله تعالی جل جلاله د خپل ځان د معرفت په خاطر او د عبادت د طریقو د ښودلو په خاطر ټولو انسانانو ته د خپلې ذمه وارۍ او د دین د تعلیم دپاره د انسانانو له پیدا ایښت څخه د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تر نبوت پورې یو لک څلور ویشت زره زیات تو کم پیغمبران دنیا ته رالیږلي دي او زموږ د مسلمانانو ایمان دی چه هر پیغمبر په ټول ژوند کښې خپل امة ته د الله تعالی د لورې ورسپارل شوي مسئولیت سرته رسولی چه په هغه کښې ئې یو ذره غوندې نقصان نه دی کړی او د الله تعالی د طرف نه ورکړی شوی پیغام ئې ټولو انسانانو ته رسولی او په دعوت کښې ورته هر قسم تکلیفونه رسیدلي دي. هو! د هر قسم تکلیفونو سره سره پیغمبرانو خپل مسئولیتونه پوره کړي دي. او ورورستي زموږ غوره امة د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی چه دوئ ته غوره والی صرف د دعوت په خاطر او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په کولو سره ورکړی شوی دی الله تعالی فرمايي:

چه تاسې یو غوره امة ئې چه خلکو ته به حکم د نیکۍ او منع به د بدۍ څخه کوئ چه دا د هر مسلمان یو فرضي مسئولیت دی لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته الخ یعنې هر یو د ستاسې څخه ذمه واردی او د هر یوه څخه به د خپلې ذمه وارۍ پوښتنه کیږي چه د یو مملکت پاچا د خپل ما تحت ټول قوم ذمه وار دی نو دا معلومه شوه چه په اسلام کښې هر انسان خپل ځانته ځانته مسئولیت لري او هیڅوک بې مسئولیته نه شته او د هر چا څخه به حتمي او ضروري د الله تعالی د طرف نه د خپل مسئولیت پوښتنه کیږي چه د دې له پاره به ورځ راتلونکې ده چه هغه ته د قیامت ورځ ویلی شي نو دا یو حقیقت دی چه د دنیا زندګي د اخرت له پاره ده که څوک په دنیا کښې نیک عمل وکړي نو شمره به ئې ښه وي او الله جل جلاله به جنت ورته ورکړي او که څوک په دنیا کښې بد عمل وکړي نو الله تعالی به ئې جهنم ته بوځي.

نو! د ورونو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث چه حاسبوا قبل ان تحاسبوا چه د خپل ځان سره د الله تعالی د حساب څخه مخکې حساب وکړئ نو باید له ځان سره فکر وکړو او وګورو چه موږ خپل ژوند په څه کښې تیروو او حقیقت ته وګورو چه له موږ سره ئې د څه فکر دی؟ آیا موږ د دنیا خدمت ډیر کړی او که د الله تعالی جل جلاله د دین خدمت مو ډیر کړی او باید په ژور سوچ سره غور

باقي په (۴) مخ

جنګ درمیان آذریهای مسلمان وآرمنیهای مسیحی در باکو جمهوریت آذربائیجان

ګذارش های اژانس های خبر رسانی غربی از مسکو حاکیست که بر تعقیب زدوخوردهای تازه در آذربایجان عساکر توسط طیاره به منطقه اعزام شده اند ګذارش های مشعراست که تعداد تلفات در جنګ های اخیر در باکو مرکز جمهوریت آذربایجان به حد اقل (۳۰) نفر میباشد جنګ میان آذریهای مسلمان وآرمنیهای مسیحی رُخ داده است در (یروان) مرکز جمهوریت ارمنستان درحدود (۳۰۰) سه صد هزار نفر بروز یکشنبی مظاهره نموده خواستار مسئولیت آرمنیهای ساکن آذربایجان شده اند.

ګذارش های رسمي شوروي میګویند که اکثریت مقتولین را آرمنیها تشکیل میدهند و (۲۲) تن دیګر بروز شنبی در باکو زخمی شده اند تاس اوضاع را در بعضی از مناطق خارج از کنترول توصیف کرد. خبرنګاران محلی میګویند این زدوخورد پس از تبصره های ضد آرمنی در یک اجتماع ملت خواهان در میدان مرکزی باکو آغاز یافت در این اجتماع (۱۵۰) هزار نفر اشتراک کرده بودند، مامورین آرمنی در (یروان) میګویند تند روان آذربایجانی در شمال منطقه ناګورنو قره باغ در دهات آرمنی ها حمله میکنند. یک نطاق جنبش ملی آرمنیها ګفت در اجتماع روز یکشنبی در (یروان) از آرمنیها تقاضا شد برای حفاظت دفاع دهات خود واحد های دفاعی کلی را تشکیل بدهند.

دافغانستان په شمالي ولایاتو کښې د اتلو مجاهدینو او د کابل دکمونیست رژیم قواو وتر منځ سختې نښتې شوې دي

د باوري منابعو خبر دی چه د ټولو تنظیمونو مجاهدینو د دسمبر په (۳۰) مه نیټه د بلخ په ولسوالۍ کښې د سیاګرد او ارغنداب په علاقو کښې د کابل د رژیم په امنیتي پوستو باندې یو لړ پراخه حملې کړي او د مزار شریف او بلخ تر منځ عمومي سړک مجاهدینو بند کړی دی، ویل کیږي چه د کابل د رژیم (۳۲) تنه ملیشه په دې جګړه کښې وژل شوي او (۷) تنه زخمیان شوي دي. رپوټ زیاتوي چه په دې نښتو کښې (۸) تنه مجاهدین وژل شوي (۷) تنه زخمیان دي.

مجاهدینو د دسمبر په (۲۹) تاریخ د جوزجان او مزار شریف تر منځ عمومي سړک او د هغه ځای د میني بنار ته نژدې د رژیم سره قطارونو باندې بیلې بیلې حملې کړي ویل کیږي چه په دې جګړو کې مجاهدینو (۲۱) تنه عسکر وژلي او (۱۸) کسه ئې زخمیان کړي دي په دې برسیره مجاهدینو د دسمبر د میاشتې په (۳۰) تاریخ د سمنګانو د ولایت د خلم په ولسوالۍ کښې د کابل د رژیم په امنیتي پوستو حملې کړیدي.

رپوټ زیاتوي چه د (۸) امبر امنیتي پوستې (۳۱) کسه عسکر د خپلو وسلو او یوه اندازه مهماتو سره مجاهدینو ته تسلیم شوي دي. د هغه راز مجاهدینو دسمبرد

باقي په (۴) مخ کښې

شوروي اتحاد په افغانستان کې په زرګونو ملیشه د جوزجاني په نوم ځای په ځای کړي دي

تائید شوي رپوټونه وائي چه د شوروي اتحاد طبعه د جوزجاني ملیشه و په نوم خپل ځانونه داسې ښودلي لکه چه دوئ افغانان وي او د کابل د رژیم تر کنترول لاندې د مجاهدینو خلاف جنګیږي.

راپور زیاتوي چه جوزجاني ملیشه چه د شمالي افغانستان د جوزجان ولایت ته منسوب شوي دي د شوروي اتحاد د تاجکستان او ترکمنستان د جمهوریتونو اطبعه په کښې شامل دي خبر وائي چه د غه ملیشه خپل ځانونه داسې ښائي لکه چه د افغانستان په شمالي ولایتو کښې تاجک او ترکي نژاد افغانان دي مګر هغوئ چه د مرکزي آسیا جمهوریتونو د منطقې کومه مشخصه ژبه وائي او کومه لهجه چه استعمالوي د هغې نه صفا معلومیږي چه هغوئ افغانان نه دي. رپوټونو او باوري منابعو په وار وار داخبره کړېده چه شوروي اطبعه د افغانانو په جامه کښې د مجاهدینو سره جنګیږي.

په کابل کښې د کود تاد ورورستي ناکام کوشش په باره کښې ویل شوي دي چه

باقي په (۴) مخ

الدعوة

مؤسس: مولوي جمیل الرحمن

خپروونکی اداره: د دعوت او ارشاد ریاست

د تاسیس کال: ۱۴۰۷ هـ ق / ۱۳۶۵ هـ ش

پښاور - پاکستان

زمونږ د اسلامي انقلاب په وړاندې د نړیوال استکبار ناځوانمردانه دریځ

کله چه د روس کاغذي ببر (د کرملین واکدارانو) د افغانستان د مؤمن او مجاهد امة د نه ماتېدونکي ایمان په وړاندې د خپل سورکارد خذلان او ذلیلتوب ولید او په دې وپوهېدل چه د «الله اکبر» د کفر پرځوونکی غږ په وړاندې د دوی ټول مدرن وسایل ناکام او بې کټې دي، نو له هغه چا نه ئې امداد وغوښت چه تر پرونه ئې ورته د «نه پخلا کېدونکي دښمن» خطاب کاوه!

اوس د افغانستان د مجاهد ولس او د اسلامي انقلاب له بریالیتوب څخه غربي استکبار په وېره کښې دی!

د انقلاب او جهاد په داسې حساس پړاو کښې چه د روس نوکران او بربڼي د خپلې آبادي امحاء د کندي په غاړه ولاړ دي، نړیوال استکبار خپل ټول تضادونه یو خواته پرېږدي او په ګډه سره داسې د سیسې او طوطیې جوړوي چه د هغو په عملي کولو سره په افغانستان کښې د یو سوچه او خالص اسلامي نظام د جوړېدو مخه ونیسي.

دلته دی چه کله مسلمان مجاهد د اسلامي نظام په وړاندې د نړیوال کفر ګډ دریځ او د دوی د ناولي اومذ بوحانه هلې ځلې ویني، نو ایمان ئې د اسلامي نظام په حقانیت او د ټولو کفري نظامونو او زړیمونو په بطلان نور هم پیاوړی کېږي او په دې پوهېږي چه رښتیا هم «ټول کفر یو ملت دی».

دلته سړي ته د یو عالم خبره یا دېږي چه وائي: «ختیځ او لویدیځ ځوا کونه د مستضعفو ولسونو د غوښولو له پاره د قیچي دواړه تیغونه دي»، یا د یو بل عالم خبره ده چه وائي: «چا راته وویل چه ختکی او ګبین دواړه یو ځای ونه خورې چه دوی دواړه یو له بل سره ښه نه دي. ما ورته وویل: چه نه؛ دوی دواړه سره ښه دي او په دې کښې سره متحد دي چه ماله منځه یوسي!»

اوس دا معلومه شوه چه ختیځ او لویدیځ په خپلو کښې سره تضاد نه درلود، بلکه تضاد ئې هم د مسلمانانو او محرومو ولسونو د ښکیلولو له پاره ؤ، او اتحاد ئې هم د همدې ناولي مقصد له پاره دی.

نو مؤمن مجاهدین باید په دې وپوهېږي چه هغوی چه «نه پخلا کېدونکی دریځ درلود، سره پخلا شول، مونږ چه د **اخوت** او وروری دریځ درلود، مونږ باید څه وکړو؟»

باقي په (۳۲) مخ

د تېري ګڼې پاتې

اسلام د سولې او امنیت دین دی

په همدغه ورځو کښې سعد بن معاذ رضی الله عنه چه د اوس «نومې قبیلې لوئ مشر وویل چه» د عمرې د ادا کولو له پاره مکې ته لاړ. دی او امیه بن خلف د پخوانه سره ډېر دوستان وو، او دا دوستي ئې د اسلام نه وروسته هم په ځای پاتې وه. د دې دوستۍ په وجه سعد د امیه بن خلف کره میلمه شو. یوه ورځ ئې امیه د ځان سره کړ او د کعبې د طواف له پاره روان شو. اتفاقاً ابوجهل په مخه ورغی. ابوجهل د امیه نه پوښتنه وکړه چه دا ستا ملګری څوک دی؟ امیه وویل: سعد دی. ابوجهل وویل: «تاسی صابیانو (کافرانو به محمد صلی الله علیه او د ده اصحابو ته صابیان یعنی مرتد وویل) ته پناه ورکړې ده، زه دا ښېي نه شم منلی چه تاسو کعبې ته راشئ، زما دې په خدای جل جلاله قسم وی چه که ستا سره امیه نه وای نو ته زما څخه ژوندی واپس نه شوې تللی.» سعد ورته وویل: چه که تاسی مونږ له حج نه منع کړئ، نو مونږ به په تاسو د مدینې لار وتړو (یعنې د شام د تجارت لار) د حرم د سرپرستۍ په وجه به ټولو عربو د قریشو ډېر احترام کاوه او د مکې نه تر مدینې پورې چه څومره قبیلې پرتې وې، ټولې د قریشو د تاثیر لاندې وې. په دې سبب قریشو د غه ټولې قبیلې د اسلام د مخالفت له پاره ودرولې او د هجرت تر شپږم کال پورې دیمن او نورو ځایونو خلک محمد صلی الله علیه وسلم ته نه شو راتلی. د ډېرو یوه د له استازي چه په شپږم هجري کال راغلل، نو د پیغمبر علیه السلام حضور ته ئې عرض وکړ چه د مضر قبیله د مونږ د راتلو د لارې خنډ دی، له دې کبله مونږ یوازې د حج په ورځو کښې چه په عام ډول جنګونه بند وي ستاسو خدمت ته راتلای شو. قریشو یوازې په دې خبرو اکتفاء ونه کړه، بلکه څنګه چه ئې عبدالله بن ابی ته لیکلی وو، هغسې ئې په مدینه باندې د حملې او تاراک د پاره ځانونه تیار ول تر دې پورې چه حال داوو چه محمد صلی الله علیه وسلم به شپه په ویښه تېروله. د صحیح البخاري په باب الجهاد کښې راغلی دي چه یو ځل محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «که نن ورځ یو ښه سړي پیره کړې وای» «د دې خبرې په اورېدو سعد بن وقاص په خپله وسله ځان سمبال کړ او ټوله شپه ئې پیره وکړه. د دې نه زیات د حاکم روایت دی چه وائي: هو؛ کله چه محمد صلی الله علیه وسلم او د ده اصحاب مدینې ته راغلل او انصارو ورته پناه ورکړه، نو ټول عرب له یوې مخې د دوی سره جنګ ته تیار شول په دغه وجه به اصحاب تر سبا پورې د وسلو سره بیده کېدل.

د غزاګانو د تاریخ پوهان همدا واقعات د اسلامي غزاګانو شروع ګڼي او وائي چه په دغه کال پاک خدای جل جلاله مسلمانانو ته د جهاد اجازه ورکړه لیکن هر یوه شېږونکی چه د تعصب او عنا د عینکې د سترګو لیرې کړي او د حقیقت او قضاوت په نظر واقعات او حوادث تحلیل کړي، په خپله دا اندازه لګولی شي چه اصل حقیقت څه ؤ او د غزاګانو د پیل له پاره کوم عوامل او انګیزې موجود وې. ځینو مفسرینو لیکلی دي چه الله تعالی جل جلاله د دوهم هجري کال د صفرې په میاشت کښې مسلمانانو ته د جهاد اجازه ورکړه او د دې خبرې د سند له پاره د امام زهري په دې قول تکیه کوي: اول آیت چه نزل کت فی الاذن بالقتال

اذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا وان الله علی نصرهم لقدیرة

یعني هغه لومړی آیت چه د جنګ د اجازې په باره کښې نازل شوی دا دی: «اذن للذین الخ».

چه ترجمه ئې دا ده: چه د چا سره چه جنګ کېږي (مسلمانان) هغوی ته همدا اوس د جنګ اجازه ده، ځکه چه په دوی ظلم او تېری کېږي او خدای جل جلاله بېشکه د دوی په مرسته قادر دی.

ځینی نور مفسرین وائي چه د جنګ د اجازې په باب لومړی آیت دا دی:

قاتلوا فی سبیل الله الذین یقاتلونکم.

ترجمه: د خدای جل جلاله په لار کښې د هغو خلکو سره جنګ وکړئ چه هغوی ستاسو سره جنګونه کوي.

که په غور وکورئ په دې دواړو ایتونو کښې د هغو خلکو سره د جنګ کولو اجازه ورکړې شوې ده چه هغوی اول د مسلمانانو سره جنګونه ته ملا تړلې وه. له دې څخه دا حقیقت څرګندېږي چه مسلمانان به په زور جنګ کولو ته اړ کېدل او جنګ به ور باندې تحمیل کېده.

تحلیل کوتاهی پیرامون تبلیغات ناکام دشمن در رابطه جهاد افغانستان

جهاد مسلحانه وقیام حماسه آفرین ملت غیور و قهرمان افغانستان که یازده سال از عمر آن سپری میگردد، شاهد پیروزیهای عظیم مجاهدین راه اسلام که عامل اصلی در هم کوبیدن کاخهای ظلمانی استکبار جهانی ودر رأس آن خرسهای قطبی وایادی شومشان هستند، میباشد.

سیل خروشان وانقلاب عظیم اسلامي امة مسلمان و شجاع افغان نه تنها در راه - براندازی وانحطاط چند انگشت شمار افسار گسیختهٔ مارکسست مجاهدت ورزیده‌اند استیلاء یافت وپیروان مکتب بی محتوائی مارکسیسم، لینینیسم را در میادین نبردهای رویا روی شکست داد وچرخ تاریخ !! را عوض کرد؛ بلکه تماشاچیان بی خاصیت ودراهه سازان غرب را نیز بی آثر بجا نگذاشت.

آری! آنگاه که برای پاکسازی کشور از لوث کثافات وگندیدگیهای عقاید !! وارداتی کمونیزم جهاد اعلام گردید، همه سازمانهای حقوق بشر!! ؟ محافل بین المللی !! ودیگر سازمانهای که دارای القاب وعناوین دهن پرکن هستند !!! مهر سکوت برلب نهاده ولحظه وقیمت خودرا پیرامون موضوع افغانستان مضایقه میکردند.

حتی غربیها این فکر خام را در ذهنیت های مسخ شدهٔ خود، چنین پرورش می دادند که: گپ از گپ تیر شده، با روسها مقابله کردن امریست بسا مشکل زیرا تشکیل قوت ضعیف وانسجام واحدهای کوچك منطقوی؛ به منظور قلع وقمع یك ارتش منظم صد هزاري - یا لا اقل جهت ایجاد موانع در سر راه - پیشرویهای سیل آسائی آنان جنونی بیش نبوده آست.

چنی ها هم نظریات خودرا مبنی براصل چگونگی مقاومت درافغانستان چنین ابراز میدارند: لزوم محاذ آرائی دو قوت جنگی را فقط وفقط توازن نیروهای آن تضمین میکند، به این مفهوم که نیروهای مجاهد افغان در مقابل با روسها زمانی توفیق حاصل مینمایند که تا دندان مسلح باشند.

چنانچه انگلس بر مارکس (که دو رهبر پیشوائی کمونیسهای جهان هستند) ضمن نامه شرح حال و چگونگی فعالیتهای خود در جمعیت کمونیستهای

بقیه در صفحهٔ (۱۶)

«جهاد د دین د ساتنې او د الله جل جلاله د کلمې د لوړتیا او د مؤمنانو د سر او مال د ساتنې او د فساد او

حکم منل

ما د یو الله او پیغمبر حکم منلی دی — ماخو د هر څه نه دا بهتر حکم منلی دی
څوك که بل پسې ځي د هر چا خوښه خپله ده — ماخو دې ټولو دا فسر حکم منلی دی
ما ته چې الله شر نګه حکم کړی حاضر یمه — ما د خپل مولا په سترګو سر حکم منلی دی
بیا د پاك رسول نه ما بل څوك بهتر نه ښکاري — ما د مدینې د پاك سرور حکم منلی دی
بیا اطیعوا الله والرسول چې پاك الله ویلی — ما له دې نه پس په زیر و زور حکم منلی دی
ما چې دلایل صحیح د سر په سترګو ولیدل — بیا مې د مالك د بحر و بر حکم منلی دی
کله چې خبر زه ګل حسین له دې حکمونو شوم — ما د ټول جهان د رب اکبر حکم منلی دی

په آذربایجان کښې د آزادۍ غوښتنې احساسات پیاوړي کېدونکي دي

د تېرې یوې هفتې سره را په دې خوا د نړۍ رالسو اژانسونو رپوټونه وایي چې د روس په آذربایجان جمهوریت کښې د خلکو او حکومتي مقاماتو ترمنځ حالات کړکیچن شوي دي. خبرونه وایي چې د جنورۍ د میاشتې په (۱۸) مه نېټه د روسي پوځ په وړاندې (۲۲) تنه مظاهره کوونکي ووژل شو او (۲۶) تنه نور ټپیان شول. پوځ په ګرځېدو راګرځېدو باندې بندیز ولګاوه. د جنورۍ د میاشتې په شلمه نېټه د خلکو قهر بیا راوپارېده او یوه درنده مظاهره یې په باکو کښې راووېستله. بې عاطفې سور پوځ له درندو وسلو او ټېنکونو سره ښار ته ورننوت او په مظاهره کوونکو یې ګولۍ د اورولې چې په سوونو کسان یې ووژل. د تلفاتو په هکله متضاد خبرونه رارسېدلي دي.

د یوګوسلاویا خبري اژانس د روس د پوځي خبریالو په حواله وایي چې باکو ښار ته د روسي پوځ د داخلېدو په وخت کښې یوه شپه درې نیم زره کسان ووژل شول. خبریالان دا هم وایي چې د ریاست د صدارت په مقام کښې د راډیو او تلویزیون استېشنونه هم تباه شوي دي. تر دې خبر د مخه د اذربایجان د آزادۍ غوښتنې د تحریك په حواله ویل شوي وه چې د مظاهره کوونکو او پوځ تر منځ د ینځه ساعته جنګ په دوران کښې تقریباً پنځه سوه کسان وژل شوي دي. په ماسکو کښې د آذربایجان سفیر یوه مرکه وکړه او وې ویل: چې په جنګ کښې به په سوونو تنه خلك وژل شوي وي خو زه د پوره تفصیلاتو نه خبر نه یم». د روس د باندنیو چارو د وزارت معین په یوه پریس کانفرنس کښې اعلان وکړ چې اته تنه پوځیان او له شلو ښځو نه زیات اذریان وژل شوي دي.

د روسي پوځ د حملې نه وروسته د آزادۍ غوښتنې د تحریك له خوا د عمومي ماتم اعلان شوی دی. له بلې خوا د ایران خبري آژانس وایي چې په آذربایجان کښې د مسلمانانو په یو ښار (نخجوان) کښې د جنورۍ په شلمه نېټه د شنبې په ورځ له ماسکو سره د خپل ترون د پرې کولو او د مکملې آزادۍ اعلان شوی دی. خبر ځای د تاس د آژانس په حواله وایي چې د پوځ د حملې وروسته آذربایجانو له روسیې څخه د آذربایجان د بېلېدو غوښتنه کړې او دا یې ویلي دي چې آذربایجان ته دې د یو اسلامي ریاست حیثیت ورکړ شي. د ایران د خبري آژانس وینا ده چې د آذربایجان د (میکچیوان) په ښار کې د جنورۍ په (۲۰) مه نېټه د شنبې په ورځ سهار، له ماسکو سره د خپل ترون د پرېکولو اعلان شوی دی، ویل کېږي چې دا اعلان د ښار په تلویزیون کې ورکړی شو خو ماسکو د دې خبر تصدیق نه دی کړی.

له بلې خوا ویل کېږي چې د جنورۍ د میاشتې په (۲۲) مه نېټه کله چې د باکو په ښار کې د روسي پوځ له خوا د وژل شوو کسانو جنازې پورته کېدلې، په سلهاوو زره کسانو د جنازې په مراسمو کښې ګډون کړی وو او اکثرو تورې جامې اغوستې وې او ځینو کسانو چې تورې جامې یې نه درلودې نو یوازې یې په خپلو متو پورې په تورو ټوکرانو تړلو یې خپل احساسات ښکاره کول او روس ته یې داسې اخطار ورکړ چې که روسي پوځونه تر (۴۸) ساعتو پورې له آذربایجان څخه ونه وځي نو موږ به خپلې اړیکې له ماسکو سره پرېکړو. د روس مشر ګورباچوف په تلویزیون کښې د اذربایجان د خلکو څخه د آرامۍ غوښتنه کړې.

د امریکا د ملي امنیت د چارو سلاکار او په ملګرو ملتو کښې د متحده ایالاتو پخواني سفیر په یوه تلویزیوني وینا کښې پېش بیني وکړه چې که په روسیه کښې هغه ظلمونه له منځه ولاړ شي چې پخوا هلته روان وو نو ښا به د غه ملك تجزیه او ټوټې ټوټې شي او روسیه به تر پنځه نویم کال پورې پاینښت ونه کړي، په دې شرط چې روسي مشران د قوې له استعمال څخه ځان وژغوري او که له قوې څخه کار واخلي، ممکن په یوې عظیم الشانې دیکتاتورۍ بدل شي.

د افغانستان جهاد

د افغانستان مقدس وسله وال جهاد تقریباً د ولس کاله کېږي چې شروع شوی دی، دا جهاد د افغانستان مسلمان ملت د خپلې اسلامي عقیدې په خاطر د دهریت الحاد او هر قسم بې دینۍ په مقابل کښې شروع کړی دی چې په دې جهاد کښې افغان مجاهدینو تقریباً یو نیم میلیون شهیدان ورکړي او په زیات شمېر یتیمان او په زرګونو ښځې کونډې شوي دي او اکثره افغانان د خپلې دیني فریضې د پوره کولو په خاطر د خپل وطن څخه مهاجر شوي دي او د هجرت شپې او ورځې تېروي. کومه قرباني چې د افغانستان مجاهد ملت د روس او د هغه د مزدور رژیم په مقابل کښې ورکړه، په تاریخ کښې یې مثال نه شته چې د دې قربانیو په نتیجه کښې یې د روس غوندې لوی طاقت ته بې مثاله شکست ورکړ، د همدغه جهاد په برکت او د روسانو په شکست سره په ټوله نړۍ کښې د غیر مسلمو ملکونو خلك د کمونیستو په خلاف راپورته شول او خپله آزادي یې تر لاسه کړه او د نړۍ مسلمانانو له پاره د افغانستان جهاد د عزت وړ وګرځېده او مسلمانان د کفارو په مقابله کښې راپورته شول. دا چې د افغانستان جهاد د کامیابۍ آخري مرحلې ته رسېدلی دی، نږدې دی چې د افغانستان په زمکه یو صحیح اسلامي او د قرآن او سنت او د مجاهدینو یو نماینده حکومت قائمېدونکی دی، نو د نړۍ کفار خاص طور روس او امریکا د دې جهاد د ثمرې څخه په خوف کښې دي او دا نه غواړي چې په افغانستان کښې د مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړ شي. نو په دې سلسله کې د جهاد خلاف قسما قسم سازشونه کوي کله د سیاسي حل نعره وهي او کله د وسیع البنیاد حکومت تشکیل غواړي. په دغه اساس روس او امریکا خپل یو نماینده حکومت جوړول غواړي. خو موږ د تنظیم سلفیه طلبه ځوانانو دا هود کړی چې د افغانستان جهاد د هیڅ چا د خارجي طاقت په اشاره او امداد نه دی شروع کړی بلکه د افغانستان جهاد د اسلامي عقیدې او فریضې په خاطر شروع شوی دی چې جهاد د الله جل جلاله یو فرض دی او دا داسې فرض دی چې دا به تر قیامت پورې دوام لري. ترڅو د ځمکې د سر نه هر قسم کفر، شرك او بدعات نه وي ختم شوي، نو موږ وایو چې جهاد د یو غرض او مقصد په خاطر شروع شوی دی چې هغه د مکمل او

پاتې په (۴) مخ

بقیه صفحه (۲)

تحلیل کوتاهی پیرامون تبلیغات ناکام دشمن در رابطه با جهاد افغانستان

پاریس مینویسد: «موضوع اساسی این بود که لزوم یك انقلاب توأم بازور باثبات رسد ...... برای انجام این مقاصد، هیچ وسیله جز انقلاب دموکراسی توأم با ـ زور (جابرانه) به رسمیت ـ شناخته نمیشود».

با درنظر داشت گذارشات فوق از لابلای سخن پردازیهای خصمانه، استعمارگران، اعم از امپریالیزم، ـ کمونیزم و سوسیالیزم بر این نتیجه میرسیم، که آنها برای رسیدن به مقاصد شوم شان ـ تکتیك واحد را بکار می برند که همانا زور (جابرانه) است.

از همین جاست که برداشتهای استراتیژیکی غلط قدرتهای شیطانی که درفوق ذکرش رفت، در رابطه با جهاد اسلامی افغانها بنحوه ای قضاوت شان برعکس بوده و همیشه متوجه قلندران و زورگویان تاریخ است.

این یك واقعیت مسلم تاریخی است که در جامعه ایکه مفکوره خداشناسي بر نفسهای انسانی حکومت نموده و اساس و بنیاد آن جوامع را جبر اجتماعي و انفرادی تشکیل دهد، دیگر آنجا سنجشها و قضاوتها برعکس توجیه و تفسیر گردیده و معیارهای حق وباطل اصولاً مفهومی ندارند.

ولی اکنون که به حکم خداوند قدیر وتوانا و بهمت پرتوان سنگر نشینان راه توحید بزرگترین نیروي نظامي خون آشام دنیا به زانو درآمده و از مرزها عقب رانده شده، و پیشرفت لوی آزادي و استقرار حکومت اسلامی که نتیجهٔ خونبهای یکنیم میلیون شهید و بیش از دو میلیون معلول و مجروح میباشد، استشمام میگردد، غرب احساس تشویش نموده و تبلیغات دیگری متوسل گردیده و با بر صحنه آوردن ظاهرشاه، شاه مخلوع افغانستان بازار سیاست ـ بین المللی در امور افغانستان را به نفع خود گرم تر ساخته ولکه های ننگین وچهره های شناخته شدهٔ تاریخ را در انظار جهانیان نیك جلوه میدهد، تا شاید بتوانند بدینوسیله حقوق سنگرداران شجاع وقهرمان افغان را پایمال ساخته ونتیجهٔ جهاد وخونبهای شهدا را وسیلهٔ عیش ها، میگساریها وسگ بازیها و سرانجام اسباب بازیچهٔ شرق وغرب سازند.

ولی غربیها نباید این نکته را فراموش کنند، آنگاه که آتش توپخانه زورگویان کرملین ـ فضای پاك وسالم افغانستان را تیره وتار میساخت، آنها از بیم وترس روسها به هیجان آمده وراه فرار میپالیدند.

حقا که اگر جلوه چنین ـ طوفان خانمانسوز ولانه بر انداز چون کمونیستها بوسیلهٔ همین کمیتهای ناچیز (از نگاه تعداد) وکیفیت های بزرگ (از لحاظ عقیده وایمان) افغانی در همچون سرزمین قهرمان آفرین وانقلاب زاء چون افغانستان گرفته نمی شد؛ امنیت جهانی به مخاطره افتیده وامت بشری از شرش ایمن نمی ماند.

د دوهم مخ د سرمقالې پاتې

زمونږ د اسلامي انقلاب په وړاندې ...

د دې له پاره چې د دښمن دسیسې او توطیې کامیابې نه شي باید یو ورور بل ورور ته له عفوې او ګذشت څخه کار واخلي، له خپلو شخصي او تنظیمي غوښتنو څخه تېر شي او په هر حال کښې د اسلام ګټې په نظر کښې ونیسي او خپل منځني اختلافي مسایل د قرآن کریم او نبوي ارشاداتو په رڼا کښې حل او فصل کړي.

(وَمِنَ اللّٰهِ التوفیق)

فتنې د له منځه وړلو له پاره پیل شوی او د دغو ټکو تر تحقق پورې به جاري وي»

« مولوي جمیل الرحمٰن »

الدعوة

د افغانستان د جماعت الدعوة الی القرآن والسنة ...
موسس: مولوی جمیل الرحمن
خپرونکی اداره: د دعوت او ارشاد ریاست
تاسیس کال: ۱۴۰۷ هق یا ۱۳۶۵ هش
د ۳۰۲ پوسټ بکس ... پشاور - پاکستان

د لومړي مخ پاتې

د افغانستان په شمالي ولایاتو کښې د . . . .

میاشتې په (۲۸) تاریخ د رژیم په یو اکمالاتي قطار باندې چه «ایبکو» ته روان وو حمله کړې مجاهدینو د رژیم اکمالاتي موټرونه تباه کړي (۴) تنه عسکر یې وژلي او (۸) تنه یې زخمیان کړي دي.

همدارنګه په یو بل رپوټ کښې ویل شوي چه د دسمبر په (۲۷) - تاریخ د مجاهدینو او کابل رژیم د قواو ترمنځ د باګرام د هوائي میدان په خوا وشا علاقو کښې سختې جګړې شوې دي. په دې جګړو کښې مجاهدینو د رژیم دوه امنیتي پوستې تخریب کړې او (۱۲) کسه افراد یې ژوندي نیولي. په دې جګړو کښې د مجاهدینو نه یو تن وژل شوی او (۴) تنه زخمیان شوي دي.

رپوټ زیاتوي چه د دغو حملو په ځواب کښې د کابل رژیم هوائي قواوو میربچه کوټ په ولسوالۍ، انګورباغ، چنګ او کلاخیل بمباري کړې دي په دغه بمباریو کښې شلور کورونه تخریب شوي او دوه تنه کلیوال زخمیان شوي دي.

د لومړي مخ پاتې

شوروي اتحاد په افغانستان کښې په . . . .

د نجیب د رژیم د مشکورولو کوشش ځکه کامیابیدای شي چه د شوروي اتحاد جاسوسانو د کابل د رژیم په اردو او د حکومت په نورو شانګو او تاسیساتو کښې د پرې ژورې ریښې ځغلولي دي.

خبر زیاتوي چه د نړۍ د خلکو دا فکر غلط دی چه د افغانستان نه په تېره فروري کښې د شوروي وسله والو قواوو په وتلو سره په افغانستان باندې د شوروي اتحاد تسلط ختم شوی دی.

خبر زیاتوي چه شورویانو د کمونیست منفور رژیم د ساتلو د پاره چه د هرڅه بدې شي پټې پټې کړېدي او نه غواړي چه د هغه ملک نه لاس واخلي.

د تنظیم طلبه سلفیه تعارف

داچه اسلام مسلمانانو ته حکم کوي چه تاسې کښې دې یو تنظیم وي چه د قرآن او سنت طرف ته دعوت ورکوي او خلکو ته د خیر کار حکم کوي او د بد کار څخه یې منع کوي نو په دې وجه شپږ کاله مخکې د ۱۴۰۵ هجري قمري کال د رجب د میاشتې په ۲۳ نېټه بوځو طالب العلمان د اسلامي مدرسو سره راغونډ شول او د دې تنظیم «تنظیم طلبهٔ سلفیه» تاسیس یې وکړ چه دا تنظیم د قرآن او سنت د فکر او نظر والا طلباؤ یو واحد نماینده تنظیم دی چه په تاسیس د دې تنظیم کښې څه کم تعداد طلباء ؤ خو اوس الحمدلله د دې تنظیم د ملګرو شمیر زرګونو ته رسیږي، د تنظیم له طرفه د طلباؤ د دعوت له پاره په مختلفو ځایونو کښې حلقې جوړې شوې دي چه شمیر یې (۲۵۰) دوه سوه او پنځوس حلقو ته رسیږي او همدارنګه دې حلقو ته په خپلو منطقو کښې ضلعي، د فترونه جوړ شوي دي چه د دغو دفترونو شمیر (۲۰) ته رسیږي د الله تعالی زیات فضل دی چه ورځ په ورځ طلباء د دې تنظیم مرام او شعار مطالعه کوي او په دې تنظیم کښې ځانونه شاملوي او خپل اسلامي مسئولیت ته متوجه کیږي. د تنظیم ټولو کارکنانو خپل مسئولیت د قرآن او سنت دعوت ګرځولی دی او ددې خدمت لپاره یې د الله تعالی رضا په خاطر خپل ځانونه وقف کړي دي او تاسې وینئ چه ددې تنظیم ځوانانو په مختلفو ځایونو کښې خپل دعوت شروع کړی دی او شپه او ورځ په دې کار مشغول دي چه د دعوت په لاره کښې د تنظیم کارکنانو ته قسم قسم تکلیفونه رسیږي خو باوجود ددې تکلیفونو د تنظیم کارکنان په دې تکلیفونو صبر کوي او خپل ځان په دې پاکه لارکې د انبیاؤ وارثان ګڼي، د تنظیم هر کارکن ماشاءالله دا پوره عزم لري چه تر مرګه پورې به دې اسلامي مبارزې ته دوام ورکوي او دا به په هیڅ صورت کښې نه پرېږدي او انشاءالله تعالی جل شانه الله تعالی د داسې کسانو ملګری دی.

(نعم المولی ونعم النصیر)

د لومړي مخ پاتې

د تنظیم طلبه سلفیه پیغام

وکړو چه مسلمانان ولې په دنیا کښې داسې خوار دي چه په هر ځای کښې د کفارو له خوا ورباندې ظلم او زیاتی شروع دی. په نړۍ کښې هیڅ یو مونږ په نظر داسې یو حکومت په نظر نه راځي چه هغه د قرآن او سنت حکومت وي. یو داسې حکومت چه د مسلمانانو غمخوري وکړي، او د مسلمانانو طرفداري وکړي، او د مسلمانانو صحیح تقویت وکړي، ددې پرځای تاسې په خپله وینئ چه په ځای ددې چه کفار د اسلام خلاف وکړي په مسلمانانو کښې څه قسم طواغیت مقرر دي چه آیا مسلمانانو ته په خپل وطن کښې صحیح آمن شته دی آیا حق پرستان صحیح دین بیا نولی شي؟ د لادینۍ د خپرولو د رسنیو څو ورځ په ورځ زیاتیږي فحاشي او عریاني رواننه ده د مسلمانانو اولاد ورځ په ورځ د اسلام د دین څخه لیرې کیږي په ځای ددې چه خلک حق اسلام ومني د جاهلیت او کفر په لار روان دي نو د مسلمان صفت دا دی چه هغه باید دنیکۍ امر وکړي او د بدۍ مخ نیوی وکړي خو افسوس په دې حال باندې چه په نامه سره شومره زیات مسلمانان دي چه تعداد د مسلمانانو څومره زیات دی او په مسلمانانو کښې د اسلام په خاطر شومره اسلامي تنظیمونه جوړ شوي دي، آخر نو ددې څه علت دی چه مونږ دومره سختو مشکلاتو سره مخامخ یو؟ آیا مونږ کم یو؟ آیا زمونږ سره اسباب نه شته؟ آیا مونږ الله جل جلاله پرېښی یو او زمونږ ورسره کومک نه کوي چه څرنګه کومک یې د پیغمبرانو او صحابه وو کړی موږ کولو. نو ددې جواب به داوي چه زمونږ شمیر هم زیات دی او اسباب هم زمونږ سره پوره دي خو زمونږ د تنزل وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته ښودلې ده چه هغه دوه شیان دي چه یو مینه د دنیا سره ده او بل ویره د مرګ نه ده چه ددې په وجه مونږ د مشکلاتو سره اخته یو او دا خبره چه مونږ الله جل جلاله پرېښي یو [یا] محکم الله تعالی هم هغه الله تعالی دی چه مونږ یې پیدا کړي یو او هیڅوک ورسره په ذات او صفت کښې شریک نه شته دی بلکه الله تعالی مونږ پرایښي دي، هغه چه زمونږ د کامیابۍ له پاره کوم هدایات رالیږلي دي هغه مونږ ترک کړي دي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی:

ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنة رسوله.

چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم آخري پیغام او وصیت دی چه امت ته یې پرې اېښی دی چه ترجمه یې داده: ما په تاسې کښې دوه شیان ستاسې د هلاکت د پاره پرېښودل چه تاسو به هیڅ کله ګمراه نه شئ چه هغه دوه شیان یو د الله کتاب چه قرآن دی او بل د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی نو اوس د هغه میراث څوک واخلي؟ د دې څه کار اخستو نه څوک ونګار نه دی. ځانان خلک شپه او ورځ په خپله مالدارۍ کښې مصروف دي او د دین کار ورته د سیورنګار کار او ذلت ښکاري او د خدمت په ځای یې مقابله کوي. غریب خلک خپل ځانته په مزدورۍ او رزق پیداکیدو کې مصروف دي او همدارنګه بیو انجنیر په خپله انجنیرۍ کښې او ډاکټر په خپله ډاکټرۍ کښې، حکومت په خپلو حکومتي کارو کښې، فوځ په خپل فوځي تربیت کښې او همدارنګه په دنیا کښې ټول د دنیا د خدمت څخه په نورو دنیاوي کارونو کښې مصروف دي نو د دین اسلام میراث څوک دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي:

العلماء ورثة الانبیاء

چه د انبیاؤ وارثان علماء دي. اوس چه ګورو علماء یو څه اندازه د دین په خدمت کښې مصروف دي خو علماؤ هم خپل مسئولیت یو څو شیان ګرځولی دی چه یو تدریس دی او بل په مسجد کې امامت دی او طلباؤ هم خپل مسئولیت پرې اېښی دی چه خپل مسئولیت یې په یوه مدرسه کښې درس ویل ګڼلی دی او بې دینه خلکو د علماؤ او طلباؤ سره دا فکر پیدا کړی دی چه د عالم او طالب د حکومت او سیاست سره څه کار دی او اسلام یې داسې ورمعرفي کړی دی چه اسلام فقط د مسجد او مدرسې شي دی او خارج ددې نه چه د چا څه خوښه ده هغه به کوي. په اوس وخت کښې چه څوک د دین په حقله کومه خبره وکړي او ووائي چه په مسلمانانو باندې د حکومت حق د مسلمان دی او د مسلمانانو د مشرۍ څخه دې دا طواغیت لیرې شي او ددې پرځای دې صحیح صالح مسلمانان مقرر شي او د مسلمانانو په ملکونو کښې دې د قرآن او سنت نظامونه قایم شي نو د هغه په مقابل کښې کفري طاقتونه کوشش کوي او په منظم شکل سره مقابلې ته راوځي چه په مسلمانانو کښې یې قسم قسم بې اتفاقۍ ګانې پیدا کړي دي او د عالم په مقابل کښې یې عالم ودرولی او د طالب په مقابل کښې یې طالب او د عوامو په مقابل کې عوام ودرولي او یو پر بل باندې د کفر فتوې ورکوي. تاسې په خپله انصاف وکړئ.

داسې د پرخلک چه شته لمونځ نه کوي له هغه څخه څوک پوښتنه نه کوي خو څوک چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په طریقه لمونځ وکړي نو هغه وهابي او جماعت ته یې نه پرېږدي او قسم قسم نومونه ورباندې لګوي همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو څخه مونږ ډېر لیرې یو او زمونږ ژوند اکثراً په رسم او رواج باندې بناء دی هر عمل چه انسان یې کوي او په هغې کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري نه وي هغه عمل د الله جل جلاله په وړاندې د قبول وړ نه دی لکه څرنګې چه د الله تعالی جل جلاله تابعداري فرض ده همدارنګه د الله جل جلاله د رسول صلی الله علیه وسلم تابعداري هم فرض ګرځولې ده لکه چه الله جل جلاله فرمائي:

وما اتکم الرسول فخذوه الخ

څه چه تاسې ته د الله جل جلاله رسول درکوي په هغې عمل وکړئ او د کوم شي څخه چه مومنع کوي د هغه څخه منع شئ او زمونږ دا عقیده ده چه الله تعالی دا دین د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات څخه د مخه پوره کړی دی، هیڅ قسم مسئله پاتې نه ده چه الله تعالی هغه خپل رسول ته ویلې نه وي او هغه خپل امت ته رسولې نه وي بلکه دین یې کامل دی او هیڅ قسم نقصان په کښې نه شته.

د دریم مخ پاتې

جهاد افغانستان

خالص اسلامي حکومت قیام دی. مونږ به انشاء الله د خپل منزل مقصود تر رسېدلو پورې خپل جهاد ته ادامه ورکړو او د خپل اسلامي متصف په اساس به د هیڅ چا په سازشونو د خپل جهاد څخه لاس وانه خلو او خپلو مجاهدینو ورونو ته هم دا توصیه کوو چه خپل منځي اختلافات پرېږدي او که غواړي چه خپل مقصد ته ورسیږي نو مقصد ته رسیدل په اتحاد سره کیږي نه په بې اتفاقۍ سره، د الله تعالی د رضا په خاطر د اسلام دښمنان په ځان مه خوشحالوئ که ستاسو په منځ کښې څه اختلافات وي هغه د قرآن او سنت په رڼا کې حل او فصل کړئ او خپل جهاد ته ادامه ورکړئ بل دا چه زمونږ د ټولې نړۍ د مسلمانانو څخه دا درخواست دی چه د افغانستان جهاد د خپله فریضه وګڼئ او ددې جهاد په شا ودرېږئ او په دې جهاد کې سمه قرباني ورکړئ ترڅو چه مجاهدین په خپل جهاد کښې کامیاب او شرق او غرب په خپلو سازشونو کښې ناکام شي او په افغانستان کښې یو داسې اسلامي حکومت جوړ شي چه د ټولې نړۍ د مستضعفو مسلمانانو امدادي او پناه ګاه وګرځي الله دې مونږ ته د دین د خدمت کولو توفیق عنایت کړي او په افغانستان کښې دې یو صحیح اسلامي حکومت د قرآن او سنت په رڼا کې قایم کړي. (آمین)